# د بهزاد نقاشي

د افغانستان د هنر په تاریخ کي یو خورا مهمه دوره هغه وخت شوروکیږي، چي د امیر تیمور د فتوحاتو سره د تیموریانو د کورنۍ شاهي مرکزیت په خراسان کي جوړ سوی و.

امیر تیمور په (۷۷۱هـ) کال سمرقند خپل پایتخت کی او ډېر هنرمندان او نقاشان یې په دغه ښار کي سره راټول کړل، چي دوی به د خپل هنر په پرورښت کي له ځیني انځورونو څخه استفاده کوله او د نقاشۍ هنر به یې بشپړ کاوه.

د تیمور زوی شاه رخ له (۸۰۷ هـ څخه تر ۸۵۰هـ) پوري درې څلویښت کاله په هرات کي سلطنت وکی، دې هنر پروره پادشاه هم ډېر نقاشان په هرات کي سره راغونډ کړل چي د سر سړی یې خلیل نقاش و، د دې عصر نقاشانو به د ګلانو او باغونو او د پسرلي د ښکلو مناظرو رنګین او په زړه پوري انځورونه جوړول، لکه چي د دې مکتب یوه ماهر استاد مرتضی حسیني په (۸۲۳هـ) یو کتاب د شاهزاده بایسنقرا له پاره په هرات کي انځور کړی دئ چي ډېره ښکلې رنګ آمیزي او زړه وړونکي مناظر لري.

د هرات د نقاشۍ د مکتب یو لوی استاد او روښان ستوری کمال الدین بهزاد نومیږي، چي په (۸۵٤هـ) په هرات کي زیږېدلی او د سید احمد نقاش شاګرد و، بهزاد تر (۹۱٦هـ) کال پوري د هرات او سلطان حسین بایقرا په دربار کي اوسېدی او د هرات د نقاشۍ د مکتب زبردست استاد و، دی د ټولو هنر پوهانو په اتفاق د ایشیا د مصورانو تر ګردو لوی او ماهر انځورګر دئ.

بهزاد په هرات کي ډېر کتابونه پخپله امضاء انځور کړي دي چي تر اوسه لا هم د دنیا په مهمو کتابخانو کي بهترین او قیمتي آثار ګڼل کیږي، دی په رنګ آمیزي او د رنګو په پیژندنه کي خورا ماهر و، په تصویر کي مختلف نفساني حالتونه ښکاره کولای سوای. د طبیعي منظرو او د ودانیو په انځور کي یې هم خورا تکړه لاس درلود او د ده په نقاشي کي یو راز روحانیت او قدسیت هم لیدل کیږي، چي د هغه وخت د تصوف او حب اله نمایندګي ښه کولای سي.

د هنر پوهانو د استاد بهزاد په نقاشي کي داسي خصوصیات ټاکلي دي چي هغه د ده د هنر سره مخصوص دي او د بهزاد د هنري سبك خصایص ګڼل کیږي، لکه :

۱. د تصاویرو په خطونو کي کامل دقت او سموالی.
۲. د انسانانو د جولې او قیافې ښکاره کول، په ډول ډول رنګو کي، چي د اصلي جولې نمایندګي کولای سي.
۳. په تصویرونو کي حرکت ښکاري.
٤. د ونو او ګلانو او نورو منظرو په تصویر کي اصلي رنګونه ښکاره کول او هم د لمر د وړانګو او اوریځو عیني شکلونه ښوول.
٥. ډول ډول رنګونه سره ګډول او د هغو توافق.
٦. پیکه رنګونه لکه سرمه یي، فیروزه یي، زیتوني، قهوه یي ډېر استعمالول او د سپینو او سرو زرو او قرمزو رنګونو کار په داسي استادي چي بل څوك یې نه سي انځورکولای.

د بهزاد په انځور کړو تصویرو کي د دغو خصایصو سره یو راز ژوند او خوند او شګفتګي او روحانیت لیدل کیږي. چي د ده په خاص سبك او طرز پوري اړه لري او د هرات د هنري مکتب تفوق او برجستګي ښکاره

کوي. په اوسنۍ دنیا کي هغه تصاویر چي د بهزاد امضا ولري یا د ده مکتب ته منسوب وي په خورا لوړ قیمت ارزي.

د ایران په سلطنتي کتابخانه او د استانبول او مصر او اروپا او امریکا په ځینو کتابخانو کي داسي تصاویر او کتابونه موجود دي، چي پر هغو عمل بهزاد لیکل سوی او هنر پوهانو هم هغه د ده د آثارو په ډول منلي او پېژندلي دي.

د بهزاد له هنري مکتبه څخه په هرات او ایران او ماوراء النهر کي د ده تکړه او ماهر شاګردان هم راووتل، چي په هغو کي قاسم علي هروي، شیخ زاده خراساني، اتامیرك تبریزي ډېر مشهور دي.

د نیویارك د متروپولیتن په موزیم کي د نظامي د هفت پیکر یوه خطي نسخه سته چي ډېر ښکلي تصاویر او د ښکار منظرې یې بهزاد ته منسوبي دي. دغسي هم د برتانیا د موزیم خمسهٔ نظامي چي په (۸٤٦هـ) کښلې سوې ده درې میناتوره یې په (۸۹۸هـ) د بهزاد امضاء لري او د مصر د کتابخانې بوستان هم شپږ تصویره لري، چي څلور یې په (۸۹۳هـ) بهزاد انځور کړي او امضاء کړي دي. دا نسخه د هرات د مشهور خطاط سلطان محمد خندان د سلطان حسین بایقرا له پاره په هرات کي کښلې ده او تصاویر یې ټوله د بهزاد د هنر خصایص لري، د رنګونو ترکیب یې ډېر استادانه او د نباتاتو او مهندسي اشکالو ډول یې خورا دقیق او د مهارته ډك دئ او آخرنی تصویر یې چي ملایان په یوه مسجد کي د بحث په حال کي ښیي د (۸۹٤هـ) تاریخ لري او دا ښکاره کوي چي دغه تصویر پوره یو کال بعد له کاره فارغ سوی دئ.

د ظفرنامې یوه خطي نسخه په بالتیمور کي هم سته، چي شېرعلي خطاط په (۸۷۲هـ) د سلطان حسین له پاره کښلې ده او شپږ تصویره د بهزاده په نامه لري.

د بهزاد د مکتب هنرمندان د هر تصویر جزئیاتو ته هم ډېره توجه کوي. ریزه کاري او وړو شیانو ته ځیر کېدل د دوی د هنر ښېګڼه ده. مثلاً که وغواړي چي یوه کوټه انځور کي نو د کوټې فرش، تزئینات، کړکۍ، غالۍ او د معمارۍ خصایص ټوله پکښې ښکاره کوي. دغسي هم که یوه ونه انځور کوي، نو د وني بلګونه، ګلونه، تنه، سایه، ښاخلې او ښاخونه جلا جلا څرګندوي او سړی داسي تصور کوي چي یوه زرغونه او سمسوره ونه وینم.

د بهزاد په شاګردانو کي د هراتي قاسم علي آثار ډېر خپل استاد ته ورته دي. د نظامي خمسه چي په (۹۰۰هـ) د قاسم علي په قلم کښیده سوې ده د برتانیا په موزیم کي سته، او هم ده د بهزاد یو تصویر کښلی دئ چي د استانبول د پوهنتون په کتابخانه کي دئ او له کالو څخه یې ښکاري چي دا تصویر د هغه وخت دئ، چي بهزاد له هراته تبرېز ته تللی و.

د بهزاد د ژوندانه په آخر کي د ده دوه شاګردان آقا میرك او سلطان محمد د صفویانو په دربار کي لوړو درجو ته رسېدلي وو چي سلطان محمد په (۹۳۳هـ) د شاهنامې هغه نسخه انځور کړله کومه چي (۲٥٦) تصویره لري او په رېزه کاري، ترکیب او تنوع کي د بهزاد آثارو ته ورته دي.

میرزاعلي ، مظفر علي، میر سید علي او استاد محمدي هم د دغه مکتب استادان دي، چي د بهزاد هنر یې تر ډېرو کلو پوري په ټوله آسیا کي ژوندی ساتلی و.

په شېراز کي هم د دې هنري مکتب یوه څانګه سلطان ابراهیم د شاهرخ زوی ساتلې وه، چي تصاویر یې د پروفیسور کوهنل په قول کټ مټ د هرات له مکتبه سره همسري کوي او داسي ښکاري چي د هرات د هنري مکتب اثر پر ټول ایران باندي لوېدلی و او د صفویانو په دربارو کي هم د دغه مکتب شاګردانو، ډېر دروند مقام درلود.

د سلطان حسین بایقرا تر مرګ وروسته د خراسان لوی سلطنت او د هرات مرکزیت ضعیف سو، د دې ځای هنرمندان، لکه خطاطان، نقاشان، معماران او موسیقي نوازان هم سره خپاره سول. ځیني بخارا، ځیني هند او

ځيني ايران ته ولاړل. مګر دوی خپل هنر مفاخر دغو ملکو ته ورسره نقل کړل او هر يوه هنرمند پخپل نوي محيط کي دغه هنرونه خپاره کړل. تر دې ځايه چي د هرات د هنري مکب اغېزي تر استانبوله هم ورسېدې، او په دغو نوو محيطو کي دغو فنونو ځانله نوي رنګونه او سبکونه هم وموندل.

مثلاً په پارس کي رضا عباسي، آثا رضا معين، يوسف، محمدقاسم او په توركيه کي شاهقلي وليجان، سياوش، کمال، ميرزا علي، غوندي نقاشان پيدا سول چي د هنر خاص خاص طرزونه يې پاللي دي.

پر هند باندي هم د هرات د مکتب اثر هغه وخت ولوېدی، چي همايون د بابرشاه زوی له پارسه بيرته راغی، دی په تبرېز کي له دوو تنو هنرمندانو خواجه عبدالصمد او مير سيد علي سره آشنا سوی و، او دوی يې په (۹۵٦هـ) کال کابل ته راوغوښتل چي د امير حمزه د داستان (۱٤۰۰) تصويرونه يې انځور کړل او دغو دوو تنو نقاشانو وروسته د اکبر په زمانه کي د اګرې د نقاشۍ مکتب وپاله، چي د هند په مصوري کې د بهزاد پر طرز باندي تقريباً سل تنه شاګران وروزله او د ډهلي د بابريانو په سلطنت کي ډېر هنرمندان له دغه مکتبه راووتل، لکه شينکر، دهرم داس، فرخ بېګ، ابوالحسن ، نادرالزمان، او داسي نور نامي مصوران.

په بخارا کي هم د هند او پارس په ډول د خطاطۍ او مصورۍ مکتب له هراته څخه ورنقل سو او ډېر هراتي هنرمندان تر (۹٤۰هـ) کال وروسته ماوراء النهر ته ولاړل. چي ددوی څخه ميرعلي هراتی د جامي د يوسف و زلېخا يوه نسخه په (۹۳۰هـ) په هرات کي ليکلې وه او هغه په بخارا کي مصوره کړه سوه.

دغسي هم محمود مذهب د بهزاد د اسلوب پيرو و، چي خپل هنر يې په بخارا کي خپور کی، او د جامي د تحفۀ الاحرار نسخه يې هلته وکښله چي اوس د پاريس په ملي کتابخانه کي ده. شيخ زاده او عبدالله مذهب هم د بهزاد د مکتب شاګردان وو، چي په بخارا کي يې خپل هنري اثرونه ژوندي ساتلي دي[1].

---

[1] ورمه مجله، ۱۳۵۲ش کال، پنځمه ګڼه، ۱ - ۵ مخونه.